## د عامه پانګونې د مديريت د تنظيم د مقررې د انفاذ په هکله، د افغانستان اسلامي جمهوريت د رئيس حکم

ګڼه: (۱۸۰۹)

نېټه: ۱۳۹۹/۷/۲۱

**لومړۍ ماده:**

د عامه پانګونې د مديريت د تنظيم مقره چې د افغانستان اسلامي جمهوريت د کابينې د ۱۳۹۹/۶/۳ نېټې د (۱۸) ګڼې مصوبې پربنسټ د (۱۰) فصلونو او (۵۲) مادو په دننه کې تصويب شوې ده، منظوروم.

**دوه يمه ماده:**

دغه حکم دې د افغانستان اسلامي جمهوريت د کابينې له مصوبې او د نوموړې مقررې له متن سره يو ځای، په رسمي جريده کې خپور شي.

محمد اشرف غني

د افغانستان اسلامي جمهوريت رئيس

## حکم رئيس جمهوری اسلامی افغانستان در مورد انفاذ مقررۀ تنظيم مديريت سرمايه گذاری عامه

شماره: (۱۸۰۹)

تاريخ: ۱۳۹۹/۷/۲۱

**مادۀ اول:**

مقررۀ تنظيم مديريت سرمايه گذاری عامه را که به اساس مصوبۀ شماره(۱۸) مؤرخ ۱۳۹۹/۶/۳ کابينۀ جمهوری اسلامی افغانستان به داخل (۱۰) فصل و (۵۲) ماده تصويب گرديده است، منظورمی دارم.

**مادۀ دوم:**

اين حکم همراه با مصوبۀ کابينۀ جمهوری اسلامی افغانستان و متن مقررۀ مذکور در جريدۀ رسمی نشر گردد.

محمد اشرف غنی

رئيس جمهوری اسلامی افغانستان

د عامه پانګونې د مدیریت د تنظیم
د مقررې د طرحې په هکله،
د افغانستان اسلامي
جمهوریت د کابینې
مصوبه

ګڼه: (۱۸)
نېټه: ۱۳۹۹/٦/۳

د افغانستان اسلامي جمهوریت کابینې، د عامه پانګونې د مدیریت د تنظیم د مقررې طرحه د خپلې د ۱۳۹۹/٦/۳ نېټې په غونډه کې د (۱۰) فصلونو او (۵۲) مادو په دننه کې تصویب کړه.

محمد اشرف غني
د افغانستان اسلامي جمهوریت رئیس

مصوبۀ
کابینۀ جمهوری اسلامی افغانستان
در مورد طرح مقررۀ تنظیم
مدیریت سرمایه گذاری
عامه

شماره: (۱۸)
تاریخ: ۱۳۹۹/٦/۳

کابینۀ جمهوری اسلامی افغانستان، طرح مقررۀ تنظیم مدیریت سرمایه گذاری عامه را در جلسۀ مؤرخ ۱۳۹۹/٦/۳خویش به داخل (۱۰) فصل و (۵۲) ماده مورد تصویب قرارداد.

محمد اشرف غنی
رئیس جمهوری اسلامی افغانستان

## د عامه پانگونې د مدیریت د تنظیم مقرره

## لومړی فصل

## عمومي حکمونه

**د وضع کولو منظور**

**لومړۍ ماده:**

دغه مقرره د لاندې موخو د تحقق په منظور، وضع شوې ده:

۱- د عامه پانگونې د پرمختیایي پروژو په اغېزمن مدیریت پورې د اړوندو چارو تنظیمول.

۲- د ملي لومړیتوبونو پر بنسټ د باکیفیته پرمختیایي پروژو د ټاکلو لپاره د عامه پانگونې د پروژې جوړونې د پروسې د تحلیل د زمینې برابرول.

۳- د عامه پانگونې د پرمختیایي پروژو د اقتصادي او مالي تحلیل او ارزونې د زمینې برابرول.

۴- د تأیید شوو پرمختیایي پروژو د تطبیق لپاره د بودجې تخصیص.

۵- په مرکز او ولایتونوکې د انډولیزې

## مقررۀ تنظیم مدیریت سرمایه گذاری عامه

## فصل اول

## احکام عمومی

**منظور وضع**

**مادۀ اول:**

این مقرره به منظور تحقق اهداف ذیل، وضع گردیده است:

۱- تنظیم امور مربوط به مدیریت مؤثر پروژه های انکشافی سرمایه‌گذاری عامه.

۲- فراهم نمودن زمینۀ تحلیل پروسۀ پروژه سازی سرمایه‌گذاری عامه جهت انتخاب پروژه های انکشافی با کیفیت بر اساس اولویت های ملی.

۳- فراهم نمودن زمینۀ تحلیل و ارزیابی اقتصادی و مالی پروژه های انکشافی سرمایه‌گذاری عامه.

۴- تخصیص بودجه جهت تطبیق پروژه های انکشافی تأیید شده.

۵- تحلیل، ارزیابی و انتخاب پروژه ها

پرمختیا د اصل د تأمین په پام کې نیولو سره د پروژو تحلیل، ارزونه او انتخاب.
۶- د پروژې د تطبیق په وخت کې او د هغې له تطبیق څخه وروسته له پروژو څخه څارنه، ارزونه او رپوټ ورکونه.

## اصطلاحګانې

**دوه یمه ماده:**

په دې مقرره کې راتلونکې اصطلاحګانې لاندې مفاهیم افاده کوي:
۱- پرمختیایي پروژې: د عامه پانګونې پروژې او د عامه او خصوصي مشارکت پروژې پکې شاملې دي چې د عامه پانګونې پروژې د دولت له مالي سرچینو څخه تمویلیږي.
۲- عامه پانګونه: په پرمختیایي پروژو کې د دولت له مالي سرچینو څخه په ګټې اخیستنې د دولت پانګونه ده.
۳- اداره: وزارتونه، د خپلواک تشکیل او بودجې لرونکي لوی ریاستونه، ښاروالۍ، دولتي خپلواک کمېسیونونه، تصدۍ، دولتي او ګډ شرکتونه او نور

با درنظرداشت تأمین اصل انکشاف متوازن در مرکز و ولایات.
۶- نظارت، ارزیابی و گزارش دهی از پروژه های انکشافی حین تطبیق پروژه و بعد از تطبیق آن.

## اصطلاحات

**مادۀ دوم:**

اصطلاحات آتی در این مقرره مفاهیم ذیل را افاده می‌نماید:
۱- پروژه های انکشافی: شامل پروژه های سرمایه‌گذاری عامه و پروژه های مشارکت عامه و خصوصی است که پروژه های سرمایه‌گذاری عامه از منابع مالی دولت تمویل می گردد.
۲- سرمایه‌گذاری عامه: سرمایه‌گذاری دولت است با استفاده از منابع مالی دولت در پروژه های انکشافی.
۳- اداره: وزارت ها، ریاست های عمومی دارای تشکیل و بودجۀ مستقل، شاروالی ها، کمیسیون های مستقل دولتی، تصدی ها، شرکت های دولتی

بودجوي واحدونه په کې شامل دي.

۴- د پروژې د وړانديز ابتدايي طرحه (کانسپت نوټ): هغه سند دی چې په هغه کې د درج شوو پوښتنو په اړوند د پرمختيايي پروژې په هکله اداري ځواب برابر او د پروژې د اقتصادي اغېزمن تحليل او ارزونې لپاره د عامه پانګونې او زيربنا رياست ته، وړاندې کوي.

۵- له پانګونې څخه مخکې د پروژې جوړونې پروسه: د ادارو په واسطه د پرمختيايي پروژو برابرول او ترتيب، د پروژې د تطبيق لپاره د بودجې له اخيستلو څخه مخکې د اقتصادي اغېزمنتوب تحليل او ارزونه، د امکان سنجونې مقدماتي مطالعات او د امکان سنجونې بشپړ مطالعات، د پروژې د وړانديز د ابتدايي طرحې په پړاوونو کې، شاملېږي.

۶- د امکان سنجونې مقدماتي مطالعات: هغه مطالعات دي چې له شته معلوماتو څخه په ګټه اخيستنې

و مختلط و ساير واحد های بودجوی، می‌باشد.

۴- طرح ابتدائی پيشنهاد پروژه (کانسپت نوت): سندی است که اداره در مورد پروژۀ انکشافی مربوط به سوالات مندرج آن جواب تهيه و جهت تحليل و ارزيابی مؤثريت اقتصادی پروژه به رياست سرمايه‌گذاری عامه و زيربنا، ارائه می‌نمايد.

۵- پروسۀ پروژه سازی قبل از سرمايه‌گذاری: شامل تهيه و ترتيب پروژه های انکشافی توسط ادارات، تحليل و ارزيابی مؤثريت اقتصادی قبل از اخذ بودجه جهت تطبيق پروژه در مراحل طرح ابتدائی پيشنهاد پروژه، مطالعات مقدماتی امکان سنجی و مطالعات کامل امکان سنجی، می‌گردد.

۶- مطالعات مقدماتی امکان سنجی: مطالعاتی است که بعد از تأييد طرح ابتدائی پيشنهاد پروژه

د پرمختیایي پـــروژو د عملـــي والـــي د تشـــخیص، د پرمختیـــایي پـــروژو اقتصادي اغېزمنتوب او د هغو د بدیلو غوراویو د تحلیل لپـــاره د پـــروژې د وړاندیز د ابتدایي طرحې له تأیید او د مطالعاتو د بودجې له تخصیص څخه وروسته، صورت مومي.

۷- د امکان سنجونې بشپړ مطالعات: هغه مطالعات دي چې د هغو د تطبیق په ساحه کې له حقیقي معلوماتو څخه پـــه ګټې اخیستنې سره د پرمختیایي پروژو د عملي والي د تشخیص لپاره د امکـــان سنجونې او د بودجې د تخصیص لـــه مطالعاتو او د پروژې لـــه اقتصـــادي فرضیاتو او د هغو د مالي چـــارو لـــه تمویل څخه وروسته، صورت مومي.

۸- د پروژې اقتصـــادي فرضـــیات: د پروژې له تطبیق او د پروژې له نورو بدلونونو څخه راپیدا شـــوي د تطبیق د لګښت، د ساتنې او مراقبت عملیـــاتي لګښت، د کلنۍ اړتیا، د مقدار د اړتیا اندازه، د عاید سرچینه، د کلني عوایدو مقدار او د کلني ســـپماوو د مقـــدار

و تخصـــــیص بودجـــــه مطالعـــــات جهـــت تشـــخیص عملـــی بـــودن پـــروژه هـــای انکشـــافی، مؤثریـــت اقتصادی پروژه های انکشافی و تحلیل گزینه های بدیل آن بـــا اســـتفاده از معلومـــــات موجـــــود، صـــــورت می‌گیرد.

۷- مطالعات کامل امکـــان ســـنجی: مطالعاتی است که بعـــد از مطالعـــات مقـــــدماتی امکـــــان ســـــنجی و تخصـــــیص بودجـــــه مطالعـــــات جهـــت تشـــخیص عملـــی بـــودن پروژه های انکشافی بـــا اســـتفاده از معلومات حقیقی در ساحهٔ تطبیق آن و فرضیات اقتصادی پروژه و تمویل امور مالی آن صورت می‌گیرد.

۸- فرضیات اقتصادی پروژه: تغییرات هزینـــه تطبیـــق، هزینـــه عملیـــاتی حفظ و مراقبت، مقـــدار نیازمنـــدی سالانه، اندازه نیازمندی، منبع عایـــد، مقـــدار عوایـــد ســـالانه، مقـــدار صرفه جویی های سالانه ناشی از تطبیق پـــروژه و ســـایر تغییـــرات پـــروژه

**بدلونونه دي.**

**۹- د پروژې د اقتصادي فرضياتو د حساسيت تحليل: د پروژې د اقتصادي فرضياتو د ارقامو، په مقدار كې له صفر څخه تر مثبت څلوېښت سلنې (۰+۴۰٪) او منفي دېرش سلنې (-۳۰٪) د بدلون تحليل له اعمال شوو بدلونونو څخه وروسته د پايلو د تشخيص موخه ده.**

**۱۰- د پروژې د خطراتو تحليل (مونت كارلو): د هغو پايلو د تشخيص په موخه د پروژې د اقتصادي فرضياتو د احتمالي خطرونو پربنسټ د پروژې په فرضياتو كې د احصائيوي ورته والي د تحليل تګلاره ده.**

**۱۱- د عامه پانګونې متحدالمال: هغه سند دی چې د بودجوي واحد لپاره د پروژې د وړانديز ابتدايي طرحه، د متحدالمال مهالوېش جدول، د عامه پانګونې د پروژې د ټاكلو لارښودونه، د عامه پانګونې د پروژې لګښت موندنه، د پروژې د مالي ارزونې تحليل او د پروژې اقتصادي تحليل او ارزونه، د**

**می‌باشد.**

**۹- تحلیل حساسیت فرضیات اقتصادی پروژه: تحلیل تغییر صفر تا مثبت چهل فیصد (۰+۴۰٪) و منفی سی فیصد (-۳۰٪) در مقدار ارقام فرضیات اقتصادی پروژه جهت تشخیص نتایج پس از تغییرات اعمال شده می‌باشد.**

**۱۰- تحلیل خطرات پروژه (مونت کارلو): روش تحلیل شبیه سازی احصائیوی در فرضیات پروژه بر اساس خطرات احتمالی فرضیات اقتصادی پروژه جهت تشخیص نتایج آن می‌باشد.**

**۱۱- متحدالمال سرمایه‌گذاری عامه: سندی است که شامل طرح ابتدائی پیشنهاد پروژه، جدول تقسیم اوقات متحدالمال، رهنمودهای انتخاب پروژه سرمایه‌گذاری عامه، هزینه یابی پروژه سرمایه‌گذاری عامه، تحلیل ارزیابی مالی پروژه و تحلیل و ارزیابی اقتصادی پروژه، لیست تجدید شده**

عامه او زيربنا د پانگونې د رياست د پروژو نوی شوی لېست، ښوونيزه برنامه او د ادارې لپاره تخنيکي ملاتړ دی.

۱۲- د عامه پانگونې د متحدالمال مهالوېش جدول: د پیل د نېټې او د هر فعالیت د پای او د ټاکل شوي ضرب الاجل په یادولو سره د عامه پانگونې د متحدالمال درج شوو فعالیتونو لېست دی.

۱۳- د عامه پانگونې د پروژې د ټاکلو لارښود: هغه لارښود دی چې د دولت له ملي ستراتیژۍ او له ملي لومړیتوب لرونکو برنامو سره سم، د پروژې د وړاندیز د ابتدایي طرحې د ټاکلو او استولو لپاره له ادارې سره مرسته کوي.

۱۴- د عامه پانگونې د پروژې د لگښت موندنې لارښود: هغه لارښود دی چې اداره له هغه سره سم د خپلې پروژې د وړاندیز کېدونکې ابتدایي طرحې لگښت موندنه کوي.

۱۵- د پروژې د مالي تحلیل او

پروژه های ریاست سرمایه‌گذاری عامه و زیربنا، برنامهٔ آموزشی و حمایت تخنیکی برای اداره می‌باشد.

۱۲- جدول تقسیم اوقات متحدالمال سرمایه‌گذاری عامه: لیست فعالیت های مندرج متحدالمال سرمایه‌گذاری عامه است با ذکر تاریخ آغاز و ختم هر فعالیت و ضرب الاجل تعیین شده.

۱۳- رهنمود انتخاب پروژهٔ سرمایه‌گذاری عامه: رهنمودی است که اداره را جهت انتخاب و ارسال طرح ابتدائی پیشنهاد پروژه مطابق استراتیژی ملی دولت و برنامه های دارای اولویت ملی، کمک می‌نماید.

۱۴- رهنمود هزینه یابی پروژهٔ سرمایه‌گذاری عامه: رهنمودی است که اداره مطابق آن طرح ابتدائی پیشنهادی پروژهٔ خویش را هزینه یابی می‌نماید.

۱۵-رهنمود تحلیل و ارزیابی

ارزونې لارښود: هغه لارښود دی چې له هغه سره سم، د پروژې د وړاندیز ابتدایي طرحه، د امکان سنجونې مقدماتي مطالعات او د امکان سنجونې بشپړ مطالعات مالي تحلیل او ارزول کېږي.

۱٦- د پروژې د اقتصادي تحلیل او ارزونې لارښود: هغه لارښود دی چې له هغه سره سم، د پروژې د وړاندیز ابتدایي طرحه، د امکان سنجونې مقدماتي مطالعات او د امکان سنجونې بشپړ مطالعات اقتصادي تحلیل او ارزول کېږي.

۱۷- د عامه پانګونې او زیربنا ریاست د پروژو نوی شوی لېست: د عامه پانګونې او زیربنا ریاست د ارزونې د پایلو لېست دی چې له وروستني صادر شوي متحدالمال سره سم د بودجې له لارې د اجراء وړ پروژې، نوی شوی پروژې او په هغو کې د ادارو رد شوې پروژې پکې نوې کېږي.

مالی پروژه: رهنمودی است که مطابق آن طرح ابتدائی پیشنهاد پروژه، مطالعات مقدماتی امکان سنجی و مطالعات کامل امکان سنجی تحلیل و ارزیابی مالی می‌گردد.

۱٦- رهنمود تحلیل و ارزیابی اقتصادی پروژه: رهنمودی است که مطابق آن طرح ابتدائی پیشنهاد پروژه، مطالعات مقدماتی امکان سنجی و مطالعات کامل امکان سنجی تحلیل و ارزیابی اقتصادی می‌گردد.

۱۷- لیست تجدید شدهٔ پروژه های ریاست سرمایه‌گذاری عامه و زیربنا: لیست نتایج ارزیابی ریاست سرمایه‌گذاری عامه و زیربنا است که مطابق آخرین متحدالمال صادرشده پروژه های قابل اجراء از طریق بودجه، پروژه های تجدید نظر شده و پروژه های رد شده ادارات در آن تجدید می‌گردد.

**د تطبيق مرجع**

**درېيمه ماده:**

(۱) د ماليې وزارت د دې مقررې د حکمونو د تطبيق مرجع ده.

(۲) د عامه پانګونې او زيربنا رياست د ماليې وزارت په چوکاټ کې د دې مقررې د حکمونو د تطبيق په منظور فعاليت کوي او له دې وروسته د رياست په نامه يادېږي.

(۳) ادارې مکلفې دي د دې مقررې د حکمونو په تطبيق کې له رياست سره همکاري وکړي.

**د تطبيق ساحه**

**څلورمه ماده:**

د دې مقررې حکمونه د ادارو د عامه پانګونې په پرمختيايي پروژو، تطبيقېږي.

**مرجع تطبيق**

**مادۀ سوم:**

(۱) وزارت ماليه مرجع تطبيق احکام اين مقرره می باشد.

(۲) رياست سرمايه‌گذاری عامه و زيربنا در چوکات وزارت ماليه به منظور تطبيق احکام اين مقرره فعاليت می‌نمايد و منبعد بنام رياست، ياد می‌گردد.

(۳) ادارات مکلف اند در تطبيق احکام اين مقرره با رياست، همکاری نمايند.

**ساحۀ تطبيق**

**مادۀ چهارم:**

احکام اين مقرره بر پروژه های انکشافی سرمايه‌گذاری عامه ادارات، تطبيق می‌گردد.

## دوه یم فصل

## د عامه پانګونې د پروژې جوړونې پړاوونه

**د عامه پانګونې د پروژو او د عامه او خصوصي مشارکت د پروژو د وړاندیز د ابتدایي طرحې استول**

**پنځمه ماده:**

(۱) ادارې مکلفې دي، د عامه پانګونې پرمختیایي پروژې، د پروژې د وړاندیز له ابتدایي طرحې سره سم، ریاست ته واستوي.

(۲) د عامه او خصوصي مشارکت ریاست، د عامه او خصوصي مشارکت پروژې چې د عامه او خصوصي مشارکت د قانون له حکمونو سره سم، ترلاسه کوي، لېست یې ریاست ته استوي.

(۳) ریاست مکلف دی، د عامه پانګونې د پروژو د وړاندیز ابتدایي طرحه او ترلاسه شوې د عامه او

## فصل دوم

## مراحل پروژه سازی سرمایه‌گذاری عامه

**ارسال طرح ابتدائی پیشنهاد پروژه های سرمایه‌گذاری عامه و پروژه های مشارکت عامه و خصوصی**

**مادۀ پنجم:**

(۱) ادارات مکلف اند، پروژه های انکشافی سرمایه‌گذاری عامه را مطابق طرح ابتدائی پیشنهاد پروژه به ریاست، ارسال نمایند.

(۲) ریاست مشارکت عامه و خصوصی، پروژه های مشارکت عامه و خصوصی را که مطابق احکام قانون مشارکت عامه و خصوصی دریافت می نماید، لیست آن را به ریاست، ارسال می‌نماید.

(۳) ریاست مکلف است، طرح ابتدائی پیشنهاد پروژه های سرمایه‌گذاری عامه و پروژه های مشارکت عامه و

خصوصي مشارکت پــروژې د عامــه پانګونې د پروژو په لېست کې شاملې کړي.

(۴) رياســت د عامــه او خصوصــي مشارکت له لوی رياست سره په تفاهم کې، د عامه پانګونې پروژه د ترلاســه شوو پروژو د وړانديز ابتدايي طرحــه د عامه او خصوصي مشارکت له پروژې څخه تفکيــک کــړي او د عامــه او خصوصي مشارکت پروژې د عامه او خصوصي مشارکت لوی رياست تــه د پړاوونو د تېرولو لپاره استوي.

## د عامه پانګونې د پروژې د تمويل سرچينې

شپږمه ماده:

د عامه پانګونې پــروژه لــه لانــدې سرچينو څخه تمويلېږي:

۱- اختياري او غيرې اختياري بودجه.

۲- د حکومت عوايد.

۳- د بهرنيو تمويل کوونکو پرمختيايي مرستې.

۴- د حکومت پورونه.

خصوصی دریافتی را شــامل لیســت پروژه های ســرمایه‌گــذاری عامــه نماید.

(۴) ریاست در تفاهم با ریاست عمومی مشارکت عامه و خصوصــی، طــرح ابتدائی پیشنهاد پروژه های دریــافتی پروژۀ سرمایه‌گذاری عامه را از پروژۀ مشارکت عامه و خصوصی تفکیــک نموده و پروژه های مشارکت عامه و خصوصی را جهت طی مراحــل بــه ریاست عمومی مشــارکت عامــه و خصوصی ارسال می‌نماید.

## منابع تمویل پروژۀ سرمایه‌گذاری عامه

مادۀ ششم:

پروژۀ سرمایه‌گذاری عامه از منابع ذیل، تمویل می‌گردد:

۱- بودجۀ اختیاری و غیر اختیاری.

۲- عواید حکومت.

۳- کمــک هـــای انکشـــافی تمویل کنندگان خارجی.

۴- قروض حکومت.

## د بودجې جوړونې له پروسې څخه د پروژې جوړونې تفکیک

اوومه ماده:

(۱) د پروژې جوړونې پروسه د بودجې جوړونې له پروسې څخه جلا (مجزا) ده او تفکیک یې د تحلیل او ارزونې د پایلو پر بنسټ په لاندې پړاوونو کې، صورت مومي:

۱- د پروژې د وړاندیز د ابتدایي طرحې برابرول.

۲- د امکان سنجونې د مقدماتي مطالعاتو ترسره کول.

۳- د امکان سنجونې د بشپړو مطالعاتو ترسره کول.

(۲) د اداري پرمختیایي پروژې د پروسې له لارې له پانګونې څخه مخکې د ملي بودجې په سند کې د هغه له شمولیت څخه وړاندې، د عامه پانګونې د متحدالمال له لارې، له پړاوونو تېرېږي.

## تفکیک پروسهٔ پروژه سازی از پروسهٔ بودجه سازی

مادهٔ هفتم:

(۱) پروسهٔ پروژه سازی مجزا از پروسهٔ بودجه سازی بوده و تفکیک آن بر اساس نتایج تحلیل و ارزیابی در مراحل ذیل، صورت می‌گیرد:

۱- تهیهٔ طرح ابتدائی پیشنهاد پروژه.

۲- انجام مطالعات مقدماتی امکان سنجی.

۳- انجام مطالعات کامل امکان سنجی.

(۲) پروژه های انکشافی اداره از طریق پروسه قبل از سرمایه‌گذاری پیش از شمولیت آن در سند بودجه ملی، از طریق متحدالمال سرمایه‌گذاری عامه، طی مراحل می‌گردد.

## د عامه پانګونې متحدالمال

**اتمه ماده:**

ریاست، د عامه پانګونې متحدالمال د مالي کال په هره ربعه کې د پروژې د وړاندیز د ابتدایي طرحې د ترلاسه کولو، د امکان سنجونې د مقدماتي مطالعاتو او د پرمختیایي پروژو د امکان سنجونې د بشپړو مطالعاتو لپاره په لاندې مواردو کې اداري ته صادروي:

۱- د پرمختیایي پروژو د استولو د زماني موعد ټاکل.

۲- د پرمختیایي پروژو د برابرولو په هکله د تخنیکي لارښوونو وړاندې کول.

۳- له سترو پروژو څخه د کوچنیو پروژو د طبقه بندۍ د تفکیک د مبلغ مشخصول.

۴- د دولت د پرمختیایي لومړیتوبونو وړاندې کول.

## متحدالمال سرمایه‌گذاری عامه

**مادهٔ هشتم:**

ریاست، متحدالمال سرمایه‌گذاری عامه را در هر ربع سال مالی جهت دریافت طرح ابتدائی پیشنهاد پروژه، مطالعات مقدماتی امکان سنجی و مطالعات کامل امکان سنجی پروژه های انکشافی در موارد ذیل به اداره صادر می‌نماید:

۱- تعیین موعد زمانی ارسال پروژه های انکشافی.

۲- ارائه رهنمود های تخنیکی در مورد تهیه پروژه های انکشافی.

۳- مشخص نمودن مبلغ تفکیک طبقه بندی پروژه های کوچک از پروژه های بزرگ.

۴- ارائه اولویت های انکشافی دولت.

## د ادارې د استازي مکلفيتونه

**نهمه ماده:**

(۱) اداره مکلفه ده، د اړوندې ادارې مسلکي استازی او دايمي متخصص رياست ته، ور وپېژني.

(۲) د ادارې استازی مکلف دی، د پروژې د وړانديز ابتدايي طرحه برابره کړي.

(۳) د ادارې استازی مکلف دی، د پروژې د وړانديز ابتدايي طرحه، د امکان سنجونې مقدماتي مطالعات او د اړوندې ادارې د پرمختيايي پروژو د امکان سنجونې بشپړ مطالعات، د دې مقررې له حکمونو سره سم، رياست ته واستوي.

## مکلفيت های نمايندهٔ اداره

**مادهٔ نهم:**

(۱) اداره مکلف است، نمايندهٔ مسلکی و متخصص دايمی ادارهٔ مربوط را به رياست، معرفی نمايد.

(۲) نمايندهٔ اداره مکلف است، طرح ابتدائی پيشنهاد پروژه را تهيه نمايد.

(۳) نمايندهٔ اداره مکلف است، طرح ابتدائی پيشنهاد پروژه، مطالعات مقدماتی امکان سنجی و مطالعات کامل امکان سنجی پروژه های انکشافی ادارهٔ مربوط را مطابق احکام اين مقرره به رياست، ارسال نمايد.

## دریيم فصل

## د پروژې د ارزونې کمېټه

**د پروژې د ارزونې کمېټې رامنځ ته کول**

**لسمه ماده:**

(۱) د عامه پانګونې د پروژو د ارزونې په منظور، د پروژې د ارزونې کمېټه په لاندې ترکیب سره، جوړېږي:

۱- د ریاست رئیس.

۲- د بودجې لوی رئیس.

۳- د عامه او خصوصي مشارکت لوی رئیس.

۴- د افغانستان د خونې فدراسیون استازی.

۵- د اقتصاد وزارت له رئیسانو څخه یو تن.

۶- د ریاست په وړاندیز او د مالیې وزیر په منظورۍ نور غړي.

(۲) د پروژې د ارزونې د کمېټې غړي، له خپل منځ څخه د کمېټې رئیس د (۱۸۰) ورځو د مودې لپاره ټاکي.

(۳) د پروژې د ارزونې کمېټه کولای

## فصل سوم

## کمیتهٔ ارزیابی پروژه

**ایجاد کمیتهٔ ارزیابی پروژه**

**مادهٔ دهم:**

(۱) به منظور ارزیابی پروژه های سرمایه‌گذاری عامه، کمیتهٔ ارزیابی پروژه به ترکیب ذیل، ایجاد می‌گردد:

۱- رئیس ریاست.

۲- رئیس عمومی بودجه.

۳- رئیس عمومی مشارکت عامه و خصوصی.

۴- نمایندهٔ فدراسیون اتاق های افغانستان.

۵- یکتن از رؤسای وزارت اقتصاد.

۶- سایر اعضاء به پیشنهاد ریاست و منظوری وزیر مالیه.

(۲) اعضای کمیتهٔ ارزیابی پروژه، از میان خود رئیس کمیته را برای مدت (۱۸۰) روز تعیین می‌نمایند.

(۳) کمیتهٔ ارزیابی پروژه می‌تواند،

شي، د رأيې ورکولو لــه حــق پرتــه د کمېټې په غونډو کې د ګډون لپــاره د اداري او نورو ملي او بين المللــي بنسټونو استازي، راوبولي.

(۴) د پــروژو د ارزونـــې د کمېټـــې سکرتريت د رياست پر غـــاړه دی او لاندې دندې لري:

۱- د کمېټې له رئيس سره په مشوره د غونډو د اجنډا تنظيمول.

۲- د غونډې له جوړېدو څخه لږ ترلږه (۷) ورځې مخکې د کمېټې غړو تــه د غونډو د اجنډا لېږل.

۳- د کمېټې له رئيس سره په مشوره د غونډو د زماني جدول ټاکل.

۴- له اجنډا سره سم د کمېټـــې لـــه غونډو څخه مخکې د تخنيکي همغږۍ د غونډو جوړول.

۵- د غونډو د ډول ثبتول او د کمېټې د رئيس د لاسليک اخيستل.

۶- د غونډو له جوړولو څخه زيات تر زيات (۲۴) ساعته وروسته، غړو ته د غونډو د ډول استول.

نمايندگان اداره و ساير نهاد های ملی و بين‌المللی را جهــت اشــتراک در جلسات کميته بدون حق رأی، دعوت نمايد.

(۴) سکرتريت کميتهٔ ارزيابی پروژه ها بعهدهٔ رياست بوده و دارای وظـــايف ذيل می‌باشد:

۱- تنظيم آجندای جلسات در مشوره با رئيس کميته.

۲- ارسال آجندای جلسات به اعضای کميته حداقل (۷) روز قبل از تــدوير جلسه.

۳- تعيين جدول زمانی جلســات در مشوره با رئيس کميته.

۴- تدوير جلسات هماهنگی تخنيکی قبــل از جلســات کميتــه مطــابق آجنداء.

۵- ثبت صورت جلســات و اخــذ امضای رئيس کميته.

۶- ارسال صورت جلسات به اعضاء، حداکثر (۲۴) ساعت بعد از تــدوير جلسات.

## د پروژې د ارزونې د کمېټې دندې

**یوولسمه ماده:**

(۱) د پروژې د ارزونې کمېټه، لاندې دندې لري:

۱- د عامه او خصوصي مشارکت لـه پروژو څخه د عامه پانګونې د پرمختیایي پروژو تفکیک.

۲- د ادارې د پرمختیایي پروژو پـه هکله د ریاست د وړاندې شوي تحلیل د رپوټ ارزول.

۳- د تصمیم نیونې لپاره مالیې وزیر ته د ارزونې د رپوټ وړاندې کول.

۴- د لارښودو تأییدول.

۵- د کوچنیو او سترو پروژو د ټاکلي معیار مشخص کول.

۶- د پروژې د وړانـدیز د ابتـدایي طرحې د فارمټ تأییدول.

(۲) د پروژې د ارزونې کمېټه مکلفـه ده، د پروژې له هغه تحلیل څخه چـې د ریاست لخوا یې صورت مونـدلای، ډاډ ترلاسه کړي.

(۳) د پـروژې د ارزونـې کمېټـې

## وظایف کمیتهٔ ارزیابی پروژه

**مادهٔ یازدهم:**

(۱) کمیتهٔ ارزیـابی پـروژه، دارای وظایف ذیل می‌باشد:

۱- تفکیک پروژه هـای انکشـافی سرمایه‌گذاری عامه از پـروژه هـای مشارکت عامه و خصوصی.

۲- ارزیابی گزارش تحلیل ارائه شده ریاست در مورد پروژه های انکشافی اداره.

۳- ارائه گزارش ارزیابی به وزیر مالیه جهت اتخاذ تصمیم.

۴- تأیید رهنمود ها.

۵- مشخص نمـودن معیـار تعیـین پروژه های کوچک و بزرگ.

۶- تأیید فارمت طرح ابتدائی پیشنهاد پروژه.

(۲) کمیتهٔ ارزیابی پروژه مکلف است، از تحلیل پروژه که از طرف ریاسـت صورت گرفتـه، اطمینـان حاصـل نماید.

(۳) طرز فعالیـت کمیتـهٔ ارزیـابی

د فعالیت ډول په کړنلاره کې تنظیمېږي.

## د پروژې د ارزونې د کمېټې غونډې

دوولسمه ماده:

(۱) د پروژې د ارزونې د کمېټې عادي غونډې، په میاشت کې یو ځل او فوق العاده غونډې یې د پروژې د ارزونې د کمېټې د رئیس د تصمیم پر بنسټ جوړېدای شي.

(۲) د کمېټې د غونډو نصاب د هغې د اکثرو غړو په حضور سره بشپړ او تصمیمونه د غونډې د حاضرو غړو د رأیو په اکثریت سره نیول کېږي، د غونډو تصمیمونه د غونډې په صورت کې ثبت کېږي.

(۳) د تخنیکي ارزونې په منظور د پرمختیایي پروژو د تحلیل رپوټ د پروژې د ارزونې کمېټې ته د هغه له وړاندې کولو څخه مخکې، له هر یوه غړي څخه د دوو، دوو تنو په ترکیب فرعي کمېټه جوړېږي.

پروژه در طرزالعمل تنظیم می‌گردد.

## جلسات کمیتهٔ ارزیابی پروژه

مادهٔ دوازدهم:

(۱) جلسات عادی کمیتهٔ ارزیابی پروژه، ماه یک بار و جلسات فوق العادهٔ آن به اساس تصمیم رئیس کمیتهٔ ارزیابی پروژه، دایر شده می‌تواند.

(۲) نصاب جلسات کمیته با حضور اکثریت اعضای آن تکمیل و تصامیم بر اساس رأی اکثریت اعضای حاضر جلسه اتخاذ می گردد، تصامیم جلسات در صورت جلسه، ثبت می‌گردد.

(۳) به منظور ارزیابی تخنیکی گزارش تحلیل پروژه های انکشافی قبل از ارائه آن به کمیتهٔ ارزیابی پروژه، کمیتهٔ فرعی به ترکیب دو، دو نفر از هر یک اعضاء، ایجاد می‌گردد.

## ځلورم فصل

## د پروژو طبقه بندي

### د پروژو ډول

**دیارلسمه ماده:**

(۱) د عامه پانګونې پرمختیایي پروژې په لاندې کټګوریو طبقه بندي کېږي:

۱- کوچنۍ پروژه.

۲- ستره پروژه.

(۲) اداره نه شي کولای، سترې پروژې، د درې پړاویزې بشپړې پروسې له تطبیق څخه د ډډې کولو له امله په کوچنیو پروژو، وویشي.

(۳) هغه پروژې چې د غیرې اختیاري بودجې او د بین المللي تمویل کوونکو د پرمختیایي مرستو له لارې تمویلېږي، د افغانستان اسلامي جمهوریت د رئیس د حکم پر بنسټ او د ادارې په غوښتنه، ددې مقررې له حکمونو سره سم، تحلیل او ارزول کېږي.

## فصل چهارم

## طبقه بندی پروژه ها

### نوعیت پروژه ها

**مادۀ سیزدهم:**

(۱) پروژه های انکشافی سرمایه‌گذاری عامه به کتگوری های ذیل، طبقه بندی می‌گردد:

۱- پروژۀ کوچک.

۲- پروژۀ بزرگ.

(۲) اداره نمی‌تواند، پروژه های بزرگ را به پروژه های کوچک جهت اجتناب از تطبیق پروسۀ کامل سه مرحله ئی تقسیم نماید.

(۳) پروژه های که از طریق بودجۀ غیراختیاری و کمک های انکشافی تمویل کنندگان بین المللی تمویل می‌گردد بر اساس حکم رئیس جمهوری اسلامی افغانستان و درخواست اداره، طبق احکام این مقرره تحلیل و ارزیابی می‌گردد.

**د پروژې د طبقه بندۍ معیارونه**

**څوارلسمه ماده:**

د کوچنیو او سترو پروژو د طبقه بندۍ د معیار پیسې د عامه پانګونې په متحدالمال کې مشخص او بدلول یې د ریاست د وړاندیز پر بنسټ او د مالیې وزیر په تأیید، صورت موندلای شي.

## پنځم فصل

## له پانګونې څخه مخکې دکوچنیو پروژو تحلیل اوارزول

**د کوچنیو پروژو تحلیل او ارزول**

**پنځلسمه ماده:**

د کوچنیو پروژو تحلیل او ارزول د یوې مرحله ایزې چټکې پروسې له لارې، چې لاندې موارد پکې شامل دي، صورت مومي:

۱- د دې مقررې د پنځمې مادې له (۱) فقرې سره سم، د ادارې په واسطه د پروژې د وړاندیز د ابتدایي طرحې استول.

**معیارهای طبقه بندی پروژه**

**مادۀ چهاردهم:**

مبلغ معیار طبقه بندی پروژه های کوچک و بزرگ در متحدالمال سرمایه‌گذاری عامه مشخص و تغییر آن بر اساس پیشنهاد ریاست و تأیید وزیر مالیه، صورت گرفته می‌تواند.

## فصل پنجم

## تحلیل و ارزیابی پروژه های کوچک قبل از سرمایه‌گذاری

**تحلیل و ارزیابی پروژه های کوچک**

**مادۀ پانزدهم:**

تحلیل و ارزیابی پروژه های کوچک از طریق پروسۀ سریع یک مرحله ئی که شامل موارد ذیل می‌باشد، صورت می‌گیرد:

۱- ارسال طرح ابتدائی پیشنهاد پروژه توسط اداره مطابق حکم فقرۀ (۱) مادۀ پنجم این مقرره.

۲- په لومړي پړاو کې د پروژې د تأیید یا د تجدید نظر او یا د رد په هکله تصمیم نیول.

۳- د تأیید په صورت کې، د بودجې له لوی ریاست سره د ملي بودجې له لارې د اجراء وړ پروژې شریکول.

## د پرمختیایي پروژو وېش

**شپاړسمه ماده:**

د اداري پرمختیایي پروژې د عامه پانګونې پر پروژو او د عامه او خصوصي مشارکت پر پروژو وېشل کېږي.

## د پروژې د وړاندیز د ابتدایي طرحې مندرجات

**اووه لسمه ماده:**

د اداري د پروژې د وړاندیز په ابتدایي طرحه کې، لاندې موارد شامل دي:

۱- د هېواد له لومړیتوبونو سره د ستراتیژیک سمون تحلیل.

۲- د کار د تجزیې جوړښت او د پروژې د تطبیق پلان.

۲- اتخاذ تصمیم در مورد تأیید یا تجدید نظر و یا رد پروژه در مرحلۀ اول.

۳- در صورت تأیید، شریک نمودن پروژۀ قابل اجراء از طریق بودجۀ ملی با ریاست عمومی بودجه.

## تقسیم پروژه های انکشافی

**مادۀ شانزدهم:**

پروژه های انکشافی اداره به پروژه های سرمایه گذاری عامه و پروژه های مشارکت عامه و خصوصی تقسیم می گردد.

## مندرجات طرح ابتدائی پیشنهاد پروژه

**مادۀ هفدهم:**

طرح ابتدائی پیشنهاد پروژۀ اداره، شامل موارد ذیل می‌باشد:

۱- تحلیل مطابقت استراتیژیک با اولویت های کشور.

۲- ساختار تجزیه کار و پلان تطبیق پروژه.

۳- د پروژې د پانگیزو لگښتونو او د ساتنې او مراقبت د عملیاتي لگښتونو جدول.
۴- د ستونزې تحلیل او د هغې د حل لارې وړاندیز.
۵- د پروژې منطقي چوکاټ.
٦- د پروژې په چوکاټ کې د ستونزې د حل لپاره ټاکل شوی مُډل.
۷- د ستونزې د حل لپاره د پروژې د بدیلو غوراویو تحلیل او تر ټولو د ښه غوراوي ټاکل.
۸- د پروژې په هکله د تصمیم نیولو لپاره، د ریاست په واسطه د غوښتل شوو معلوماتو وړاندې کول.
۹- د وړاندې شوو معلوماتو د سموالي او ناسموالي مسؤولیت.

## د پروژې د وړاندیز د لومړنې طرحې تحلیل

اتلسمه ماده:

(۱) ریاست، د دې مقررې له حکمونو سره سم، د ترلاسه شوې کوچنۍ پروژې د وړاندیز لومړنې طرحه تحلیل

۳- جدول هزینه های سرمایوی تطبیق پروژه و هزینه های عملیاتی حفظ و مراقبت.
۴- تحلیل مشکل و پیشنهاد راه حل آن.
۵- چارچوب منطقی پروژه.
٦- مُدل انتخاب شده جهت حل مشکل در چوکات پروژه.
۷- تحلیل گزینه های بدیل پروژه جهت حل مشکل و انتخاب بهترین گزینه.
۸- ارائه معلومات درخواست شده توسط ریاست، جهت اتخاذ تصمیم در مورد پروژه.
۹- مسوؤلیت صحت و سقم معلومات ارائه شده.

## تحلیل طرح ابتدائی پیشنهاد پروژه

مادهٔ هجدهم:

(۱) ریاست، مطابق احکام این مقرره، طرح ابتدائی پیشنهاد پروژهٔ کوچک دریافتی را تحلیل نموده و گزارش آن

کړي او رپوټ یې چې د پروژې تأیید یا بیا کتنه او یا رد په کې شامل وي، د دلایلو په یادولو سره، د پروژې د ارزونې کمېټې ته استوي.

(۲) د پروژې د ارزونې کمېټه، د کوچنۍ پروژې د وړاندیز د ابتدایي طرحې رپوټ وارزوي او هغه د مالیې وزیر ته وړاندې کوي.

(۳) مالیې وزیر د کوچنۍ پروژې په هکله له لاندې تصمیمونو څخه یو نیسي:

۱- د پروژې تأیید.
۲- د پروژې بیا کتنه.
۳- د پروژې رد.

## د پروژې د وړاندیز د ابتدایي طرحې د تحلیل معیارونه

نولسمه ماده:

(۱) د پروژې د وړاندیز لومړنۍ طرحه د پایدونکې پرمختیا له موخو، له لومړیتوب لرونکو ملي برنامو، د انډولیزې پرمختیا له موخو، د افغانستان د سولې او پرمختیا له ملي چوکاټ د

را که شامل تأیید یا تجدید نظر و یا رد پروژه با ذکر دلایل می‌باشد به کمیتهٔ ارزیابی پروژه ارسال می‌نماید.

(۲) کمیتهٔ ارزیابی پروژه، گزارش طرح ابتدائی پیشنهاد پروژه کوچک را ارزیابی نموده و آن را به وزیر مالیه ارائه می‌نماید.

(۳) وزیر مالیه در مورد پروژهٔ کوچک یکی از تصامیم ذیل را اتخاذ می‌نماید:

۱- تأیید پروژه.
۲- تجدید نظر پروژه.
۳- رد پروژه.

## معیارهای تحلیل طرح ابتدائی پیشنهاد پروژه

مادهٔ نزدهم:

(۱) طرح ابتدائی پیشنهاد پروژه در مطابقت با اهداف انکشاف پایدار، برنامه های ملی دارای اولویت، اهداف انکشاف متوازن، چارچوب ملی صلح و انکشاف

ځان بسايني له استراتيژۍ او له نورو ملي استراتيژيو سره په مطابقت کې ارزول کېږي.

(۲) د پرمختيايي پروژې د تطبيق پانګيز لګښت او د پروژې د ساتنې او مراقبت عملياتي لګښت، له لاندې معيارونو سره سم، تحليل کېږي:

۱- د څلوېښت سلنې (+۴۰ ٪) مثبت او دېرش سلنې (- ۳۰ ٪) منفي خطا د ضريب په پام کې نيولو سره د فعاليت پر بنسټ د لګښت موندنې د تګلارې پر بنسټ د پروژې د جزيي فعاليتونو د لګښت په يادولو سره د پرمختيايي پروژې د مجموعي تطبيق د پانګه ييز لګښت اټکل.

۲- د پرمختيايي پروژې له تطبيق څخه وروسته د عملياتي، ساتنې او مراقبت د لګښت اټکل.

(۳) د پروژې د وړانديز ابتدايي طرحه له لاندې معيارونو سره سم، تحليل کېږي:

۱- د پرمختيايي پروژې د تطبيق زماني جدول او د هغه زماني موده.

افغانستان، استراتيژی خود کفایی و سایر استراتیژی های ملی مورد ارزیابی قرار می گیرد.

(۲) هزینه سرمایوی تطبیق پروژۀ انکشافی و هزینه عملیاتی حفظ و مراقبت پروژه، مطابق معیارهای ذیل، تحلیل می‌گردد:

۱- تخمین هزینه سرمایوی تطبیق مجموعی پروژۀ انکشافی با ذکر هزینه فعالیت های جزئی پروژه بر اساس روش هزینه یابی مبتنی بر فعالیت با نظرداشت ضریب خطای مثبت چهل فیصد (+۴۰٪) و منفی سی فیصد (-۳۰٪).

۲- تخمین هزینه عملیاتی، حفظ و مراقبت بعد از تطبیق پروژه انکشافی.

(۳) طرح ابتدائی پیشنهاد پروژه مطابق معیارهای ذیل، تحلیل می‌گردد:

۱- جدول زمانی تطبیق پروژۀ انکشافی و مدت زمانی آن.

۲- د پرمختیايي پروژې منطقي چوکاټ چې د کیفي او کمي فرضیاتو په یادولو سره د استفادې وړ کلي موخو، پایلو او سرچینو نیونکی دی.

۳- د ستونزې تحلیل، د بدیل د حـــل لارو یادول او د ستونزې د لرې کولو لپاره د تر ټولو ښه بدیل ټاکل.

۴- د جندر، د بېوزلي د کمولـــو، د شغل د را منځ ته کولو، ځان بسیاینې او عواید زایی د بېلا بېلو معیارونو تحلیل.

(۴) د ټولنیز او خـــدماتي ســـکتور د پروژې د وړاندیز ابتدایي طرحـــه لـــه پرتلیز تحلیل سره سم لګښت او لاسته راغلې پایلې د بـــدیلو غوراویـــو او د غوراوي تر ټولو ښه ټاکنه د پروژې په توګه، تحلیل کېږي.

(۵) د زیربنایي پروژې د وړانـــدیز د ابتدایي طرحې تحلیل، لاندې مـــوارد پکې شامل دي:

۱- مالي او اقتصادي اوسنی خـــالص ارزښت.

۲- د بدیلو غوراویو د لګښت خالص ارزښت.

۲- چارچوب منطقی پروژۀ انکشافی که در برگیرندۀ اهداف کلی، نتایج و منابع مورد استفاده با ذکر فرضـــیات کیفی و کمی می‌باشد.

۳- تحلیل مشکل، ذکر راه حل های بدیل و انتخاب بهترین بدیل برای رفع مشکل.

۴- تحلیل معیار های مختلف جنـــدر، کاهش فقر، ایجاد شغل، خودکفایی و عواید زایی.

(۴) طرح ابتدائی پیشنهاد پروژۀ سکتور اجتماعی و خدماتی مطـــابق تحلیـــل مقایسوی هزینه و نتایج به دست آمده گزینه های بدیل وانتخـــاب بهتـــرین گزینه بـــه حیـــث پـــروژه، تحلیـــل می‌گردد.

(۵) تحلیل طرح ابتدائی پیشنهاد پروژۀ زیربنـــائی، شـــامل مـــوارد ذیـــل می‌باشد:

۱- ارزش خـــالص فعلـــی مـــالی و اقتصادی.

۲- ارزش خالص هزینه گزینه هـــای بدیل.

۳- مالي او اقتصادي کورنی پرانېستی نرخ.

۴- پر لګښت د مفاد نسبت.

۵- د پور د میعاد پوښښ او د پـور د بېرته ورکړې پوښښ.

(٦) د څلوېښت سلنې (+۴۰ ٪) مثبت او دېرش سلنې (- ۳۰ ٪) منفي خطا د ضریب د رقم په پام کې نیولو سـره د پروژې د وړاندیز د ابتدايي طرحــې مالي او اقتصادي فرضیات د حساسیت تحلیل کېږي.

## د تصمیم نیونې لـه پـړاو څخـه وروسته د اداري مسؤولیت

**شلمه ماده:**

(۱) که چېرې پروژه د مالیې وزیـر لخوا تأیید شي، د ملي بودجې له لارې د اجراء وړ پروژو پـه لېسـت کـې شاملېږي.

(۲) که چېرې د مالیې وزیر د پروژې پر بیا کتنه تصمیم ونیسي، د پروژې د وړاندیز ابتدایي طرحه د نظر له وړاندې کولو سره یوځای، د دوه یم ځل له پاره

۳- نــرخ بــازده داخلــی مــالی و اقتصادی.

۴- نسبت مفاد بر هزینه.

۵- پوشش میعاد قرضــه و پوشــش بازپرداخت قرضه.

(٦) فرضیات مالی و اقتصادی طــرح ابتدائی پیشنهاد پروژه با نظرداشت رقم ضریب خطای مثبــت چهــل فیصــد (+۴۰٪) و منفــی ســی فیصــد (-۳۰٪) تحلیل حساسیت می‌گردد.

## مسؤولیت اداره بعــد از مرحلــهٔ تصمیم گیری

**مادهٔ بیستم:**

(۱) هرگاه پروژه از طرف وزیر مالیه تأیید گردد، شامل لیست پروژه هــای قابل اجراء از طریــق بودجــهٔ ملــی می گردد.

(۲) هرگاه وزیر مالیه بر تجدید نظــر پروژه تصمیم اتخــاذ نمایــد، طــرح ابتدائی پیشــنهاد پــروژه تــوأم بــا ارائه نظر، دوباره بــه اداره ارســال می‌گردد.

اداري ته استول کېږي.

(۳) اداره کولای شي، د پروژې د وړاندیز ابتدايي طرحه له وړاندې شوي نظر سره سم اصلاح او هغه دوه یم ځل ریاست ته واستوي یا یې له پړاوونو د تېرولو بهیر ودروي.

(۴) که چېرې پروژه د مالیې وزیر لخوا رد شي، تصمیم وروستنی دی او له پړاوونو تېرول یې درول کېږي.

(۵) اداره مکلفه ده، د بودجې په استماعیه غونډو کې د خپلې ادارې له تأیید شوې پروژې دفاع وکړي.

## د بودجې د لوی ریاست مکلفیتونه

**یوویشتمه ماده:**

(۱) د بودجې لوی ریاست مکلف دی، مالي محدودیت او خپل تصمیم ته په کتو د ملي بودجې له لارې د اجراء وړ پروژې، په راتلونکو مالي کلونو کې، د ملي بودجې په سند کې درج کړي.

(۲) د بودجې لوی ریاست مکلف دی،

(۳) اداره می‌تواند، طرح ابتدائی پیشنهاد پروژه را مطابق نظر ارائه شده اصلاح و آن را دوباره به ریاست ارسال یا طی مراحل آن را متوقف نماید.

